# مسیر

ورځپانه

نوی لید، نوی مزل


www.maseerdaily.af

چهارشنبه د ۱۳۹۸ د زمري نهمه | د ۲۰۱۹ د جولای ۳۱مه | ۴۱۴مه گڼه


## کتاب


۴ مخ

### مرکب اغیز




ښه ده چې د مرکب اغیز په اړه د کتاب له متنه درته د دریو ملگرو کیسه وکړم: (دری داسې ملگري فرض کړئ چې له ماشومتوبه سره رالوی شوي دي. په یوه کوڅه کې اوسېږي، یو ډول خویونه لري او د هره یوه کلنی عاید نږدې ۱۵ زره ډالره دی. دریو واړو ودونه کړي، وزن او روغتیا یې طبیعي دي او تر واده وروسته چاغېدو ته یوڅه اندېښمن دي.)

## د هرات د انگورو په حاصلاتو کې د تېر کال په پرتله ۱۵ سلنه زیاتوالی راغلی دی



د هرات ولایت د کرنې ریاست چارواکي وایي چې سږکال د دغه ولایت د انگورو په حاصلاتو کې د تېر کال په پرتله ۱۵ سلنه زیاتوالی راغلی دی.

د هرات د کرنې ریاست مسلکي مرستیال بشیراحمد احمدي ویلي چې سږکال په دغه ولایت کې انگورو نږدې ۱۳۵ زره ټنه حاصلات لرل چې دغه شمېره د تېر کال په پرتله ۱۵ سلنه زیاتوالی ښیي.

هغه ویلي: «سږکال د بڼوالۍ وضعیت ډېر ښه دی. په ټوله کې موږ په څه باندې اته زره هکتاره ځمکه کې د انگورو بڼونه لرو او زموږ د سږکال تولید به کابو ۱۳۵ زره مټریک ټنه وي».

بلخوا د هرات بڼوالان وایي چې اوسمهال په دغه ولایت کې ۱۲۰ ډوله انگور تولیدېږي چې ډېری ډولونه یې له هېواده بهر ته صادرېږي. د دغو بڼوالانو په وینا، د هرات د انگورو ډېری تاکونه د دغه ولایت په انجیل، گذره، پښتون زرغون او اوبه ولسوالیو کې دي.

# د سولې هڅې او افغانانو ته خونړۍ جگړه؛

## په تېرو شپږو میاشتو کې نږدې څلور زره ملکیانو ته مرگ ژوبله اوښتې ده



### د امریکایي ځواکونو وتل، جدیت او اغېزې یې

۲ مخ

### له ولسمشر ټرمپ همدومره تمه کېدای شي، خو خبره دلته ژوره ده!

۲ مخ

### سوله که تاکتیک؛ څه شی بدیل او د ولس لومړیتوب دی؟!

۳ مخ

## گډو ځواکونو په پروان کې ۱۲ ملکیان وژلي دي

د پروان ولایت په سیاگرد ولسوالۍ کې د گډوځواکونو په عملیاتو کې ۱۲ ملکي وگړي وژل شوي دي.

په ملي شورا کې د دغه ولایت پخواني استازي وایي، چې گډو ځواکونو د دوشنبې په شپه د دغه ولایت په سیاگرد ولسوالۍ کې عملیات وکړل، چې یو جومات او اووه کورونه یې نړولي دي او د ښځو او ماشومانو په گډون یې ۱۲ ملکي وگړي وژلي دي.

دوی وایي، چې په دغو عملیاتو کې د دغو ځواکونو له لوري له سیمې څخه ۱۸ نور ملکي کسان ژوندي بیول شوي دي.

خو د پروان د والي وياند وایي، چې په دغو عملیاتو کې ۱۷ وسله وال طالبان وژل شوي دي.

تر دې وړاندې هم د گډو ځواکونو په شپنیو عملیاتو او هوایي بریدونو کې ملکیانو ته درنه مرگ ژوبله اړولې ده، چې د عامو افغانانو توند غبرگونونه یې راپارولي دي.

دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستیو کې د سولې د خبرو له گرمېدو سره هممهال د جگړې ډگر هم تود شوی دی چې هره ورځ پکې لسگونو افغانانو ته مرگ ژوبله اوړي چې ډېری قربانیان یې ملکي وگړي دي.

تازه په افغانستان کې د ملگرو ملتونو مرستندویه دفتر یا یوناما ویلي چې په روان میلادي کال په تېرو شپږو میاشتو کې نږدې څلور سوو افغانانو ته مرگ ژوبله اوښتې چې ډېری برخه یې د افغان او بهرنیو ځواکونو له لوري ده.

## امریکا د ۲۰۲۰ ز کال له ټاکنو وړاندې د سرتېرو ایستل پیلوي



۵ مخ

## هیئت طالبان در کنفرانس علمای دینی اندونیزیا اشتراک ورزید اند




هیئت دفتر قطر طالبان مسلح که طی یک سفر وارد اندونیزیا شده، در کنفرانس علمای دینی آن کشور، اشتراک ورزیده است.

هیئت متذکره، به ریاست ملا برادر مسئول دفتر قطر طالبان، روز جمعه گذشته طی سفر رسمی به جاکارتا پایتخت اندونیزیا رسیده است.

طالبان با انتشار خبرنامه ای به تاریخ ۸ اسد، نگاشته اند که هیئت طالبان در دفتر مرکزی مجلس العلمای اندونیزیا با شمار زیادی از عالمان، کارشناسان و متخصصین دریک نشست مشترک حضور یافت.

منیع علاوه نموده است؛ نشست که در تالار کنفرانس های مجلس العلما در جاکارتا تدویر شده بود، ملا برادر آخند و همراهانش پیرامون وضعیت جاری افغانستان، موقف و دستاوردهای طالبان معلومات ارائه نموده و ازجریان های موجود، حاضرین مجلس را مطلع ساخت.

درخبرنامه تذکر به عمل آمده است که مسئولین مجلس العلمای اندونیزیا و چهره های مطرح دیگر، دراین کنفرانس نظریات و مشوره های شان را ابراز کردند.

قابل ذکراست که هیئت طالبان، پیش از این با معاون رئیس جمهور و وزیرامورخارجهٔ اندونیزیا نیز دیدارهایی را انجام داده است.

در عین حال قراراست که در برج آینده، کنفرانس سه جانبهٔ علمای افغانستان، اندونیزیا و پاکستان در باره جنگ افغانستان نیز در اندونیزیا برگزار شود.


Aksos

اکسوس کتابپلورنځی

Aksos Book Store

Add a Book to Your Life

دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ

0798-98-9696, 0202504652

aksosbookstore@gmail.com

www.aksosbookstore.af

Aksos Book Store

Aksos Book Store

دريځ

## د امريکايي ځواکونو وتل، جديت او اغېزې يې

د امريکا د بهرنيو چارو وزير مايک پامپيو ورمه ورځ ويلي چې ټرمپ غواړي د امريکا د ۲۰۲۰ ز کال تر ولسمشريزو ټاکنو مخکې له افغانستانه د خپلو سرتېرو د ايستلو لړۍ پيل کړي. ارګ دغه خبر ته غبرګون ښودلی دی. د ولسمشر وياند صديق صديقي ويلي چې د امريکا په ستراتېژۍ کې تغير نه دی راغلی او د سرتېرو کمول به د افغانستان شرايطو ته په کتو وشي. د ولسمشر وياند صديق صديقي پر خپل ټوېټر ليکلي، پامپيو دغه ډاډ ولسمشر غني ته په وروستيو ټيليفوني خبرو کې ورکړی دی.

که امريکايي چارواکي ريښتيني وي او خپل ځواکونه له افغانستان څخه وباسي، دا ښه بدلون دی او پکار ده چې ملاتړ يې وشي، خو مونږ د دې لپاره څه تياری لرو؟

که امريکا رښتيا غواړي له طالبانو سره سوله او سياسي جوړجاړی وکړي، نو د طالبانو تر ګردو لومړنی او مهم شرط دا دی چې بهرني ځواکونه بايد له افغانستان څخه ووځي. که څه هم امريکا هڅه وکړه چې پر طالبانو يوه يا څو اډې ومني، خو له زياتو سياسي او نظامي فشارونو سره سره، طالبان حاضر نه شول چې امريکايي نظامي حضور ومني. د دې لپاره چې امريکا غوښتل له طالبانو سره سياسي جوړجاړی وکړي، نو بله لاره نه وه، مجبور شول چې د خپلو ځواکونو د وتلو په اړه له طالبانو سره وغږېږي او بيا ومني چې د يوه ټاکلي مهالوېش له مخې به خپل ټول ځواکونه وباسي. که څه هم په رسمي ډول نه دي ويل شوي چې په څومره وخت کې به امريکايي ځواکونه وځي، خو ځينې سرچينې وايي چې امريکايي ځواکونه به په اتلسو مياشتو کې له افغانستانه ووځي. که څه هم په دې اړه لا شکونه او بحثونه شته چې امريکا به په ټاکلې موده کې له افغانستانه ونه وځي او له طالبانو سره د شوي هوکړه ليک د ماتولو هڅه به وکړي، خو دا روښانه ده چې له طالبانو سره په رسمي هوکړه ليک کې به منې چې خپل ځواکونه به د يو مهالوېش له مخې وباسي. ټاکل شوې چې دا هوکړه ليک په همدې اګست مياشت کې وشي.

زموږ حکومت لا هم د معلوماتو پر ځای تحليل کوي او هغو ګواښونو ته پام نه کوي چې له دغه بدلون سره تړلي دي. پکار ده چې د امريکايي ځواکونو د وتلو مسئله جدي وګڼل شي. که ټول ځواکونه هم ونه وځي، همدا چې د ځواکونو وتل پيل شي، دا به پر افغانستان او افغان حکومت ژور اغېز پرېږدي. دې چارې ته بايد د يو فرصت په سترګه هم وکتل شي، د امريکايانو د وتلو هرکلی دې وشي، خو ورسره سم بايد داسې ګامونه واخيستل چې د افغانانو ترمنځ فاصلې را کمې شي. کله چې د ځواکونو وتل پيلېږي، نو ورسره به اوربند کېږي او بيا به هم جګړه کمېږي چې دا يوه بدلون دی او پوره ګټه بايد ترې واخيستل شي. له بده مرغه داسې نه ښکاري چې حکومت به دې چارې ته پام کوي او ګټه به ترې اخلي. دلته چارواکي لا هم فکر کوي چې ټاکنې به کېږي، دوی به يې ګټي او پنځه کاله به بيا دوی پر افغانستان واکمني کوي.



# له ولسمشر ټرمپ همدومره تمه کېدای شي، خو خبره دلته ژوره ده!

ليکنه: انتظار خادم

ټرمپ د کرکټر په لحاظ کاواکه او د نيت په لحاظ خطرناک انسان دی. د ټرمپ په اړه ويل کېږي چې سخت شر خوښوونکی دی. هم له شره ګټه پورته کوي او هم له شر وروسته وضعيت نه. ټرمپ افراطي سوداګر، بې باکه سياستوال، ځان غوښتونکی، د اغراق تر حده دروغجن، حيله ګر او مکار انسان دی. نوموړی انسانيت، ډيپلوماتيکو عرفونو، نړيوال نظم او د هېوادونو ترمنځ متقابل نزاکت ته پابند نشي پاتې کېدلی.

امريکا له جنګه زېږېدلې، په جنګ روږدې او په جنګ پايېدلې ټولنه ده او د خپل تقريباً ۲۳۹ کلن عمر ۹۳ سلنه وخت يې په جنګ کې مصرف کړی دی.

د چين مشهور پانګوال او د علي بابا شرکت مشر جک ما وايي، چې امريکا په تېرو ۳۰ کلونو کې په ۱۳ جګړو ۱۴.۲ ترليونه ډالر لګولي او امريکايي مشهور پانګوال ډېوېډ راکفلر وايي چې د پرمختګ قطعې لاره جنګ دی.

دا او دېته ورته سلګونه نور تاريخي اسناد د دې شاهدي ورکوي چې امريکا جنګ غواړي او اوسمهال ډونالډ ټرمپ د داسې سياسي مزاج استازولي کوي.

د افغان جګړې او افغان تاريخ په اړه د ټرمپ سياسي ادبيات نوي نه دي او همدا تمه ترې کېده، خو خبره اوس بدله او ژوره ده.

البته يادونه کوم چې ټرمپ په هېڅ دليل د اکثريت ملکي امريکايانو استازولي نه کوي او نه يې کولی شي.

ټرمپ له ولسمشرۍ وروسته او د کمپاين په وخت کې وويل چې د ناټو ائتلاف له منځه وړم؛ ځکه دوی د خپلې (جي ډي پي) يوازې ۲ سلنه په شريکو نړيوالو جګړو مصرفوي، په داسې حال کې چې ناټو د امريکا د حق او ناحق جګړو د ملا تير او کرايي پوځ دی. بې له ناټو امريکا په هېڅ بدلېدای شي، مګر ټرمپ خپله احساساتي وينا وکړه.

بيا يې وويل چې د جنورۍ له اولې نېټې وروسته کله چې زه سپينې ماڼۍ ته لاړ شم، د ملګرو ملتونو د کار طرز او ميکانېزم به بدل وي، په داسې حال کې چې ملګري ملتونه له ټولې دنيا جوړ او هېڅوک هم د دې بنسټ د کړنو د واک انحصار او منافولی حق نه لري.

ټرمپ بيا ځل ټولو مسلمانانو ته تروريستان وويل، د يو شمېر مسلمانو هېوادونو د زايرينو پر مخ يې د امريکا دروازې وتړلې، په امريکا کې درې ميليونه مهاجرو مسافرو ته يې د امريکا د پرېښودو امر وکړ، شمالي کوريا سره يې دوستي پيل کړه، جنوبي کوريا چې تقريباً ۷۰ کاله يې د امريکا د خوښۍ لپاره د شمالي کوريا سره دښمني وکړه، مګر ټرمپ ورسره د اړيکو د شکولو خبره وکړه.

په ۲۰۱۷ ز کال کې يوازې جنوبي کوريا د امريکا سره ٦٦ ميليارده ډالر ګډه سوداګري کړې وه.

له ايران سره يې ځکه د اوباما تړون لغوه کړ، چې ايرانيانو يو وخت پخپلو مظاهرو کې د «مرګ پر امريکا» کليمه کارولې وه، که څه هم تيری زامې، ترودو، انګېلامېرکل او ماکرون يې مخالفت وکړ، مګر نوموړی په خپل سر زوري دريځ ودرېد.

دا او دېته ورته ډېرې نورې نادرې هم ټرمپ وکړې، مګر د افغانستان په اړه يې دا حيرانوونکي‌ادبيات په دوه دليلو د منطق په تله برابر نه دي.

لومړی دا چې د افغان موضوع حساسيت چې تېر اتلس کاله پکې افغانان لتاړ دي او په ډول ډول بهانو هره ورځ سلګونه انسانان قرباني کوي او دويم د زماني شرايطو په لحاظ چې د افغان ملت برخليک به پکې ټاکل کېږي.

د سپټمبر مياشت ته ګوتې په شمار ورځې پاتې دي. اوس د کلونو مسئله نه، بلکې د ساعتونو مسئله ده. يا به ټاکنې کېږي چې کېدای شي د سولې پروسه متلاشي کړي او په هېڅ دليل د سولې لپاره ممد نه شي تمامېدلی. که څه هم زموږ اساسي اړتيا، هويت او د برخليت بنسټيزه ستنه ده او بل اړخ ته سوله چې بايد جنګ پکې پای ته ورسيږي، طالبان د سياسي سيستم برخه شي، امريکايان له هېواده ووځي او بيا ځل د سمو شرايطو سره سم د رڼو ټاکنو لپاره لاره هواره شي.

دا چې تمه کېږي د اګست مياشت په وروستيو کې به د سولې ممکن تړون وروستی کېږي، د ټرمپ اظهارات د افغان جګړې او سولې په اړه لا زيات شکونه پيدا کولی شي او د سولې هڅې اوږدولی او پېچلې کولی شي.

تېر اتلس کاله د امريکا ټولو سياسيونو پاکستان د افغان جګړې په سلسله کې متهم ګڼلی او حتی دا چې پاکستاني سياستوالو هم اعتراف کړی، مګر نن ټرمپ د عمران خان او پاکستان دومره افراطي ستاينه وکړه چې دنيا يې حيرانه کړه.

همدې ټرمپ د ۲۰۱۸ ز کال د جنورۍ په لومړۍ ورځ ټويټ وکړ او پاکستان يې غل، مکار، او دروغجن دوست ياد کړ، په داسې حال کې چې اوس يې ورته د برئت سپين چک ورکړ او غير مستقيم يې د پاکستان د سياسي خوځښت د بيا ژوندي کېدو هيلې وزېږولې.

مونږ افغانان د خپلو ګاونډيو سره د متقابل احترام، حسن نيت او ګډې همکارۍ د روحيې په اساس نېک روابط غواړو، مګر دا روابط بايد په رښتيا د عدمم مداخلې او همکارۍ په بنسټ وي، نه د چل او فرېب.

کېدای شي امريکا د پاکستان سره خپله ياري همداسې ژوندۍ وساتي، مګر لازمه نه ده چې په افغانانو د تپل شوې جګړې د تېرو اتلسو کلونو شهيدانو روح ته سپکاوی وشي.

لازمه نه ده چې افغان تاريخ او ټولنيز ارزښتونه سپک وګڼل شي. انګرېز يرغل وکړ، مګر په بېرته تېښته کې يې ۱٦۰۰۰ عسکر تر ننګرهاره تالا ترغۍ شول او يوازې ډاکتر برايډن په پرهر پرهر بدن ځان تر پېښوره ورسوه. نوموړی هم د افغان غازيانو لخوا د دې لپاره ژوندی پرېښودل شو، ترڅو د خپلې ماتې او افغان مېړانې کيسې خپلو نسلونو ته وکړي.

روسان د خپل ټول دهشت او زور سره مات، ګډوډ او امپراتوري يې له منځه لاړه. اوس نو د چنګېز او ګرګين تجربو ته په کتو نه ټرمپ دا جرئت لري، نه توان او نه پلان. نوموړی بايد د عامو اذهانو د مغشوش کولو او بې باورۍ لپاره داسې غير مسووولانه خبرې ونه کړي.

اوسمهال تاريخ دا ثابتوي چې د ۲۰۰۱ ز کال يرغل د غلطو معلوماتو پر اساس ترسره شو. معنی دا چې امريکا يرغل وکړ، نه د خپل حق نه دفاع او طالبان شايد په حقه وي چې وايي، زموږ نظام يې رنګ کړی. بوش هم پخپل کتاب (پرېکړې) کې د يرغل د غير مشروعيت خبره په ډېر نازک انداز يادوي.

تېر اتلس کاله يوازې افغانانو د خپل ژوند او خوښۍ په قيمت تاوان ورکړی.

فساد چې د ټولو ستونزو مور ده، په سيستم، ذهن او ټولنه کې ترزيق شوه. د سيګار د راپور سره سم، په هر يوه ډالر کې ۷۵ سنټه بېرته امريکا ته تللي، معنی دا چې د ۱۳۴ ميليارډ ډالرو ډېره برخه بېرته د امريکا کمپنيو او پوهانو په نامه لکونو کاريګرو وړې. هر کال د يوه امريکايي عسکر مصرف په افغان جګړه کې تر يو ميليون ډالر ډېرېده، نو معنی دا چې د امنيتي پيسو ډېره برخه بېرته امريکايي عسکرو وړې او امنيتي کمپنۍ چې بيا ښاغلي کرزي په شنه زور بندې کړې، بېخې د يادولو وړنه دي چې څومره پيسې يې بېرته يووړې.

په تېرو اتلس کلنو کې جرمي اقتصاد اوج ته ورسېده. څېړنې ښيي چې د يو اونس پوډرو قيمت په افغانستان کې يو ډالر، ايران کې په يو اونس او پنځلس سنټه، په لندن کې ۴۲ او امستردام کې ۴٦ ډالره تماميږي.

که د ۲۰۰۳ ز کال د نشه يي توکو۷۰۰۰ هکتاره ځمکه په ۳۷۴۰۰۰ هکتاره ځمکه بدلېږي، نو د نشه يي توکو نه لاس ته راغلې پيسې هم د افغان جګړې لپاره تکافو کوي، ځکه نو نور بايد د دې موهومې او بدرنګې جګړې د مصارفو خبره ډېره ياده نه کړای شي.

ويل کېږي چې ۲۳۷۰ امريکايي عسکر تر اوسه په افغانستان کې وژل شوي دي. افغان فوځ دا شمېر قرباني هره مياشت ورکوي.

په ۲۰۱٦ ز کال کې ولسمشر غني له موږ سره په مجلس کې وويل چې يوازې د اګست په مياشت کې ۱۵۰۰ افغان عسکر شهيدان شوي، په داسې حال کې چې دا شمېره د تېرو مياشتو په پرتله ډېره پورته تللې وه. د ملکي تلفاتو او طالبانو د وژل کېدو خو هډو معلومات نشته. مګر امريکا د سپټمبر د واقعې د ۳۰۰۰ امريکايانو خبره زموږ په سر سپره کړې ده.

د اکسفورډ څېړنه ښيي چې د سګرېټو د څکولو له امله هره ورځ په امريکا کې ۱۳۰۰ نفر وژل کېږي، په داسې حال کې چې د سګرېټو د ۴ ورځو وژل شوي کسان د سپټمبر د واقعې او امريکا د تېرو اتلس کلونو د افغان جګړې د قربانۍ سره برابر دي.

مونږ د امريکايانو په وژل کېدو نه يو خوښ او نه د امريکا بعضې مرستې بابېزه ګڼو، مګر هيله مو دا ده چې امريکا او ټرمپ د افغانانو قرباني هم هېره نه کړي او نه دومره بد اخلاقي وکړي چې نور لس ميليونه انسانان را ووژني.

کله چې ټرمپ د لس ميليونونو انسانانو د وژل کېدو خبره کوي، نو څو معناوې درلودی شي. لومړی دا چې لس ميليونه طالبان دي، معنی دا چې لس ميليونه خلک د طالبانو ملاتړي دي، معنی دا چې لس ميليونه خلک د طالبانو تر تسلط لاندې ژوند کوي او يا معنی دا چې که لس ميليونه افغانان ووژنم، نو ماته هېڅ فرق نه کوي او نه مې پرې بانه رپېږي. که د ټرمپ خبره په هر قالب کې واچوو، معنی يې غلطه، مخربه او تاواني راوځي.

د نړۍ هېڅ قدرت بايد د افغان وينه بې بها وانخلي او نه هم افغان تاريخ ته په سپکه وګوري. موږ جنګ نه کوو، جنګ په موږ تپل شوی. بهرنيان رښتيا وايي چې موږ سياست بايللی او جنګ مو ګټلی، نو که خبره داسې وي، ولې مو ټرمپ حتی په جګړه کې کمزوري بللي؟

وروستی دا چې د ټرمپ خبرې غير مسووولانه او د يوه افغان په صفت راته خورا خواشينوونکې دي. که څه هم امريکا د خپلې بهرنۍ ډيپلوماسۍ د تمثيل لپاره خپل قواعد لري، مګر د امريکا اساسي قانون خپل ولسمشر ته ډېر صلاحيتونه ورکړې او پرېکړې يې خپلې خاصې اغېزې درلودلی شي. هيله ده د امريکا سنا، کانګرېس او بهرنيو چارو وزارت دا خبرې تصحيح او ښېښه وغواړي ترڅو په ګډه افغانستان په رښتيا جوړ او با ثباته کړو.

افغانستان د غرو رغونو وطن دی. که څه هم ټولنيز انضباط مو ارهم برهم دی، حب الوطنۍ حس رانه تروړل شوی، ملي وحدت داغدار دی مګر بهرنيان بايد په ياد ولري چې دا وطن اوس هم اصيل بچي لري او د خپلو ځاني ګټو په قربانۍ به دا وطن ساتي، ارزښتونه به يې ساتي، د جنګ تاريخ به د سولې په تاريخ بدلوي او مخرب ګاونډيان او بهرنيان به د خپل علم او منطق پر بنسټ غلط ثابتوي.

# سوله که ټاکنې؛ څه شی بدیل او د ولس لومړیتوب دی؟!

لیکوال: قاضي نجیب الله جامع

د نړیوالو مشهورو رسنیو ترڅنګ وخت ناوخته امریکايي معتبرې رسنۍ روانه امریکا ـ افغان جګړه بې پایه، بې ګټې، د امریکايي امپراتورۍ د زوال د پیل او په ټوله کې د خپل ولس د ارادې او ارزښتونو سره په ټکر کې له انساني درنښتونو خالي او تپلې جګړه ګڼي.

هغه چې له جورج واکر بوشه نیولې بیا تر اوباما د ټولو د سوبو او بریاوو هیلې یې د ماتو او د تاریخ په هدیره کې تر پرېوتو ناهیلې کړې، په امریکايي ټولنه کې یې د سیاسي بېلتون او افتراق کرښې رامنځته کړې او حتا ولسمشر ټرمپ پر همدې شعار چې نه غواړي نور د نړۍ پولیس و اوسي، د خپلې ماتې د پټولو او د جګړې څخه د تېښتې په لار کې د ۲۰۱۸ ز کال ټاکنې هم وګټلې.

په یوه تازه ګام کې د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پامپیو ویلي، چې دوی غواړي د ۲۰۲۰ز کال تر ټاکنو مخکې د خپلو ځواکونو ایستل پیل کړي. د پامپیو په خبره ټرمپ امر کړی چې له افغانستان د ځواکونو د وتلو لړۍ باید په امریکا کې تر ولسمشریزو ټاکنو مخکې پیل شي. نوموړي دغه راز ویلي، امریکا په افغانستان کې د جګړې پر سیاسي حل تمرکز کوي او هڅه کوي له سیاسي لارو افغان جګړه پای ته ورسوي. د پامپیو په وینا، ټرمپ قوي اراده لري چې په افغانستان کې روانه بې پایه جګړه پای ته ورسوي. پامپیو په دې خبرو کې دا هم ویلي، نه یوازې له طالبانو سره د سولې او ځواکونو د وتلو خبرې شوې، بلکې د ولسمشر غني په ګډون له نورو افغان سیاستوالو او مدني فعالانو سره په اړیکه کې دی او په وینا یې په دې خبرو کې پرمختګ شوی او ډېر هیله من دی.

دا خبره له عمران خان سره د ټرمپ تر لیدنې وروسته چې د قطر ـ دوحې د مذاکراتو اړوند یې مثبته خوشبیني ښوولې وه، د امریکا د تاریخ د تر ټولې اوږدې جګړې په بهیر کې لومړنی عملي او د غوټې خلاصولو په برخه کې عاقلانه او ربښتوني مختګ کېدای شي.

اوس په داسې یوه وضعیت کې چې امریکایانو خپله ستراتېژیکه خطا منلې، پر سیاسي حل تمرکز یوازېنۍ حللاره ګڼي، هېڅ جګړه ماره طرحه، پالیسي او هېڅ وحشي جنرال یې دا د زماني فرعون د تاریخ له عاره ونه ساته، نړیوال پرستیژ کې یې حیثیت کاواکه شو او په ټوله کې د نړیوالې زبرځواکۍ د راج تاج یې حداقل نیمه پېړۍ ونشواى ساتلي، پخواني شوروي اتحاد د پوتین تر مشرۍ لاندې بېرته د خپلو سنتي مېنو د ترلاسه کولو په درشل کې ده، چین د مائو په بنسټونو د شي جېن پینګ په نوښتګرو طرحو او ګامونو سره د هغه ښامار رنګ او بڼه خپلوي چې بریژنیڅکي، هانټینګټون او هنري کسېنجر یې د وېرې، ترهې او هیبته امریکا ته د هر وحشت، جنایت، تاړاک او ځناورتوب کولو له لارې د مخنیوی فتوا ورکړې وه. ایران، شمالي کوریا، هند او ترکیه هر یو یې که اوس د امریکا د ځملولو له اړخه کمزورې ښکاري، ولې عملاً په یوه داسې خوا روان دی چې د امریکايي ګټو پر وړاندې ګواښ جوړېدای شي، د بېلګې په توګه د ترکیې له لوري له روسیې څخه د اېس-۴۰۰ ستراتېژیکې دفاع سیستم پېرل د ناټو امنیتي کمربند له کور دننه خورا په جدي توګه ونګول، بل لور ته د ایران امنیتي هڅې په منځني ختیځ او عنکبوتي ځالګۍ یې د امریکا هغه د ستراتېژیکي ژورتیا موخو ته ځواکمن ګزار دی کوم چې امریکا نږدې له ۱۹۲۴ ز کال را وروسته په دغه د جګړو، باروتو، اورونو او مرګونو په سیمه کې پانګونه پرې کړې وه او ځارل یې.

دغه نړیوال تحولات او سیمه ییز مختګونه، شاتګونه د یوه داسې ملت لپاره چې برخلیک یې نړیوال تاړاکګر ځواکونه په سیاسي قمارونو کې ټاکي، یو الهي نعمت او رحمت دی چې د ژوندي پاتې کېدو او پایښت لپاره د یوه ممکن پیل په توګه عظیمه ګټه ورڅخه وکړي او د داسې شېبو پر وړاندې هر ډول مصنوعي بهانې، مغرضانه حرکتونه او ناسنجول شوو فردي ګټو او حوسونو څخه لکه ټاکنې، ځار نه کړي.

زه پر دې باور لرم چې ټاکنې او په یوه ولسواکه، مشروع او عادلانه چوکاټ کې د سیاسي واک لېږد یو مثبت پرمختګ او د ستایلو وړ چاره ده، ولې دا یو ایډیال حالت دی. د هغو ټولنو لپاره چې ځمکنۍ بشپړتیا او ملي حاکمیت یې پخپل لاس کې وي، له اقتصادي اړخه پر ځان بسیا وي، د ۴۵ سلنه خاورې پر ځای په یوې پوره جغرافیې واک ولري، د ولس اراده یې په پردو سفارتونو کې ونه ټاکل شي، ۵۲ سلنه وګړي یې د بېوزلۍ تر کرښې لاندې ژوند ونه کړي، میلیونونه اتباع یې په کور دننه او بهر کې د کور او ګور په لټه کې نه وي، رعیت یې د ۴۸ هېوادونو په تهذیبونو بې پته شوی نه وي، وژل شوی، ټکول شوی، ځورول شوی او سپک شوی نه وي. په فساد، زوراکۍ او د ځمکو غصب کې یې د نړیوال شرم ریکارډونه نه وي مات کړي، د یوه هېواد سفارت دې د ټاکنو د ترسره کولو، د ټاکنیزې روڼتیا او اخلاقي میعارونو ټاکلو واک ونه لري، یوه بشپړه دوره یې کابینه سرپرسته نه وي، د ورځې یې ۳۰۰ تنه وګړي قتل نه شي، د نظام درې ګونې قواوې یې مشروعیت ولري، لږ تر لږه تر له ۵۰ سلنه ډېره بودجه یې خپله وي او...

اوس له دې ټول څه سره بیا هم د یو نیم متر انسان لپاره د ټاکنو په نوم د ورځې ۳۰۰ افغانانو د وژلو توجیه ایا د منلو ده؟ د ولسمشرۍ لپاره د ټاکنیزو هلو ځلو درېیمه ورځ هم سره وه. په درېیمه ورځ هم نه نوماندانو لوی او ګرم پروګرامونه لرل او نه هم خلکو له دې چارې سره لېوالتیا ښودلې ده. په کابل او نورو ولایتونو کې کمه محسوسېږي چې د ولسمشرۍ لپاره ټاکنې روانې دي. یوازې په ټولنیزو رسنیو کې د حکومت او نورو نوماندانو له خوا ګومارل شوي فېسبوک چلوونکي په اصلي او مستعارو نومونو باندې ټاکنیز کمپاین مخکې وړي او د یوه نوماند په ګټه او د نورو په تخریب په ټولنیزو رسنیو کې فعال دي دا مطلقاً پر دې دلالت کړي چې ولس ته تر ټاکنو او پر دې پلمه روان اندوخر څخه سوله مهمه ده. ولس ټاکنې حل لاره نه ګڼي او نه په تېرو ۱۹ کلونو کې ټاکنو په نس ماړه کړل، سر یې ور په امن کې کړ او حداقل ستونزې یې ور کمې کړې.

د دې ټولې شننې او په ځانګړي ډول، د امریکایانو وروستي لیدلوري د دې ښودنه کړې چې سوله حتمي ده، ټاکنې باید د مشروعیت او یوازیني بدیل په توګه د سولې روان بهیر او هلې ځلې ونه ننګوي، ځکه دا د ولس لومړیتوب او د دې هرڅه پر وړاندې معقول او ممکن بدیل دی.

زموږ په باور د سولې په روان بهیر کې د حتمي پرمختګونو تمه شته او ډېری خلک هیله من دي چې دا کار به وشي؛ ځکه همدې چارې هم پر نوماندانو او عامو وګړو ژور سیوری غوړولی، ولس او نوماندان هغسې لېوالتیا نه لري چې اټکل یې کېږي، تمه دا ده چې د امریکايي اړخ او طالب خوا ترمنځ تر ممکنه پرېکړو وروسته، بین الافغاني خبرې پیل او له سولې وروسته د افغانستان د پرمختګ پر لور چټک ګامونه واخیستل شي.

د اوس لپاره توپ د افغان حکومت په میدان کې دی چې د ولس لومړیتوب سوله خپلوي او که یا د ټاکنو او واک غځولو لپاره د راتلونکي ۵ کلونو جګړې ته چمتووالی نیسي.

دا هرڅه د معاصر افغانستان د مراندو ټینګولو او پرې کولو پیل کېدای شي، دلته به د تاریخ بدنام او نېک نام، تور مخي او واکپالي، خدايي خدمتګاران او بلواکي سره بېلېږي.

برې د هغه چا دی او هوښیار هغه څوک دی چې د تاریخ د حکم او مسخې څخه د خلاصون په رڼه څېرکې کې د خپل ولس ترڅنګ ودرېږي، د هغوی غوښتنې ومني او د خپل تاریخ د لوړو-ژورو په رڼا کې رهبرانه پرېکړې وکړي.

# د سولې هڅې او افغانانو ته خونړۍ جګړه؛

## په تېرو شپږو میاشتو کې نږدې څلور زره ملکیانو ته مرګ ژوبله اوښتې ده



افغان جګړه د ملکي افغانانو لپاره خورا خونړۍ ده. په تېرو اتلسو کلونو کې زرګونه افغانان په هېواد کې د پردۍ جګړې له امله وژل شوي دي.

تازه په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه دفتر یا یوناما د روان میلادي کال د لومړیو شپږو میاشتو د تلفاتو راپور خپور کړی دی. په راپور کې راغلي چې په شپږو میاشتو کې نږدې ۱۴۰۰ ملکي افغانان په روانه جګړه کې وژل شوي دي.

په همدې توګه د جګړې له امله نږدې دوه نیم زره نور افغانان ټپیان شوي او تر څنګ یې زرګونه کسان د خپلو کورونو پرېښودو ته اړ شوي دي.

دا په داسې حال کې ده چې د سولې له هڅو سره هممهاله، د ښکېلو خواوو ترمنځ جګړې شدت پیدا کړی او ملکي وګړو ته د تلفاتو د اوښتو کچه لوړه شوې ده. په کابل کې د ملګرو ملتونو مرستندویه دفتر یا یوناما په خپل تازه راپور کې ویلي، چې د د روان ۲۰۱۹ ز کال د جنورۍ له لومړیو د جون میاشتې تر وروستیو پورې په جګړه کې د ښکېلو خواوو له لوري نږدې څلور زره ملکي کسانو ته مرګ ژوبله اوښتې ده.

یوناما وایي، د روان کال د لومړیو دریو میاشتو په پرتله په وروستیو دریو میاشتو کې د ملکي مرګ ژوبلې په کچه کې ۲۷ سلنه لوړوالی راغلی دی چې د جدي اندېښنې وړ دی. په راپور کې راغلي چې په تېرو شپږو میاشتو کې ۱۳٦٦ ملکي وګړي وژل شوي او ۲۴۴٦ نور ټپیان دي.

سرچینه کاږي چې د طالبانو له لوري ۵۲ سلنه او د حکومت پلوه ځواکونو له لوري ۳۷ سلنه تلفات ملکي وګړو ته اوښتي دي.

بل پلو د بشري حقونو مدافع بنسټونه وایي، چې د سولې له هڅو سره هممهاله ښکېلو اړخونو جګړې ته شدت ورکړی او دغه کار د ملکي تلفاتو کچه لوړه کړې ده. دوی وایي، چې په دې وروستیو کې د طالبانو ترڅنګ، چې په ښارونو کې یې ځانمرګي بریدونه زیات کړي، حکومت او بهرنیانو هم پر ملکي سیمو هوايي بمبارۍ او شپنۍ عملیات زیات کړي دي. د افغانستان د بشري حقونو د سازمان رییس لعل ګل لعل وایي: «د بشري حقونو او نړیوال عدالت په برخه کې فعال بنسټونه باید ژر تر ژره لاس په کار شي. دوی په افغانستان کې د ملکي وګړو مرګ ژوبله وڅېړي او د پېښو عاملینو ته جزا ورکړي. که داسې ونه شي دا لړۍ به همداسې دوام ولري او څوک به د ملکیانو د ژوند پروا نه ساتي».

په ورته مهال د ملکي مرګ ژوبلې په تړاو د یوناما په راپور وسله والو طالبانو، افغان حکومت او ناټو هم غبرګون ښودلی دی. طالبانو په یوه اعلامیه کې دغه راپور بې اساسه ګڼلی او له اړوندو ادارو یې غوښتنه کړې چې د ملکي تلفاتو په تړاو دقیقې څېړنې وکړي. خو په افغانستان کې د غوڅ ملاتړ ماموریت او افغان حکومت وایي، چې دوی د ملکي مرګ ژوبلې د کمېدو لپاره هڅې کوي.

د ملي امنیت شورا دفتر وایي، دوی پر امنیتي او دفاعي ځواکونو سخت قیودات وضع کړي، څو په دې توګه وکړی شي د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې کچه راټیټه کړي.

د دغه شورا ویاند کبیر حقمل ویلي: «موږ تل هڅه کوو چې د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې کچه صفر ته راښکته کړو. موږ پر امنیتي ځواکونو سخت اصول او قیودات وضع کړي دي. دوی اړ دي چې د ملکي وګړو د ژوند خوندیتابه ته جدي پاملرنه وکړي».

په ورته مهال د ملي شورا غړي په روانه جګړه کې د ملکي وګړو تلفاتو پر زیاتوالي اندېښنه ښیي او په جګړه کې له ښکېلو لورو غوښتنه کوي چې د خپلو بریدونو پر مهال د ملکي وګړو ژوند ته جدي پاملرنه وکړي.

# <u>راپورونه:</u> د پاکستان په راولپنډۍ کې د الوتکې د نسکورېدو په پېښه کې ۱۸ تنه وژل شوي دي

په پاکستان کې د دغه هېواد یوه پوځي الوتکه د خلکو د استوګنې پر سیمې غورځېدلې چې ۱۸ تنه پکې وژل شوي دي.

پاکستاني چارواکي وایي، دغه الوتکه په راولپنډۍ ښار کې لوېدلې چې ګڼو کسانو ته پکې مرګ ژوبله اوښتې ده.

چارواکو ویلي، چې دغه الوتکه د استوګنې په سیمه کې لوېدلې او څو کورونه یې هم ویجاړ کړي دي.

د چارواکو په وینا، د الوتکې د سپرلیو سربېره، ۱۳ ملکي وګړي هم د وژل شویو کسانو په ډله کې دي.

خو په ورته کې د پاکستان پوځ ویلي چې په دې پېښه کې د الوتکې د دوو پیلوټانو په ګډون پنځه تنه وژل شوي دي.

د پاکستان د پوځ ویاند په یوې اعلامیې کې ویلي دي چې د پاکستان د پوځي هوايي چلند یوه کوچنۍ الوتکه په راولپنډۍ کې په کورونو غورځېدلې ده چې پکې د دوو پیلوټانو په ګډون پنځه تنه سپاره وو، دغه ټول کسان وژل شوي دي.

اعلامیه وایي چې دغه پوځي الوتکه د تمرین په حال کې وه، چې د تخنیکي ستونزو له کبله نسکوره شوې ده.

بلخوا د دغه هېواد رسنۍ وایي چې الوتکه په کورونو غورځېدلې او له غورځېدو سره سم پکې اور لګېدلی چې د همدې اورلګېدنې له کبله په خپلو کورونو کې په خوب ویده خلک مړه شوي دي.

د پېښې عیني شاهدان وایي چې له غورځېدو نه مخکې د الوتکې په شاتنۍ برخه کې اور لګېدلی و او پر کورونو د سوځېدلو ټوټو د غورځېدو له کبله د عامو خلکو په کورونو کې اور لګېدلی چې درنه مرګ ژوبله یې اړولې ده.

د دغه هېواد چارواکي وایي، په دغه پېښه کې ګڼ شمېر کسان زخمیان هم دي، خو لا تر اوسه یې دقیق شمېر نه دی معلوم.

پاکستاني رسنۍ وایي چې د ډېری زخمیانو وضعیت د اندېښنې وړ دی او ښایي د مړو شمېر نور هم زیات شي.

## د کتــاب خبــرې

# پښتانه


### د افغانستان او پاکستان د راتلونکي ناحل شوې مسئله

◎ لیکوال: ابوبکر صدیق

◎ ژباړن: اقامحمد قریشي

### دوهم څپرکی

### له سوله ییزو سرحدي سیمو د افراطیت تر بستره




د ډیورنډ کرښې پر سر شخړو سیمې ته سره جگړه راوړه. وروسته له هغه چې په ۱۹۴۹ز کال په جولای میاشت کې، پاکستاني حکومت د ډیورنډ کرښې ته نږدې د افغانستان پر یوه کلي هوایي برید وکړ، افغان حکومت کابل کې لویه جرگه ور وغوښته، د دې جرگې پرېکړو د دواړو هېوادونو پر اړیکو سیوری وغوړاوه. جرگې له پښتونستان څخه ملاتړ اعلان کړ، پاکستان یې یو نوی زېږېدلی هېواد وباله. دوی زیاته کړه چې پاکستان د برېټانوي هند د حکومت ځای ناستی نشي کېدی. جرگې پرېکړه وکړه چې د ډیورنډ کرښې پر تړاو چې له انگرېزانو سره هرڅه تړونونه شوي، لغوه دي. دا تړونونه په دې توگه وو؛ د ۱۸۷۹ز کال د گندومک تړون، د ۱۸۹۳ز کال د ډیورنډ تړون، د ۱۹۰۵ز کال افغان-انگلیس تړون، د ۱۹۱۹ز کال د راولپنډۍ تړون او د افغان-انگلیس د ۱۹۲۱ز کال تړون. افغانستان شوروي اتحاد ته د نظامي ملاتړ په موخه د ملگرتیا لاس ورکړ. د پښتونستان په اړه د کابل دریځ، پر هغوی د واشنگټن او نورو لوېدیځوالو مرستې بندې کړې، ځکه هغوی له پاکستان سره ملگرتیا لرله.

افغان مشران او په پاکستان کې پښتانه ملت پال شخصیتونه تر پایه د پښتونستان په اړه یوه واحد لیدلوري ته ونه رسېدل. ځینو به ویل چې پښتونستان دې خپلواک هېواد شي، ځینې په دې اند وو چې باید د پاکستان یو ولایت شي او ځینو بیا ویل چې پښتونستان له اره د افغانستان یوه برخه ده. د افغانستان واک له پښتنو سره و، ځکه به د پښتنو او غیر پښتنو ترمنځ مخالفتونه را ولاړېدل.

د سړې جگړې پر مهال روسیې او هند د خپلو گټو لپاره د پښتونستان غوړه مالي کوله. روسانو غوښتل افغانستان له لوېدیځو نظامي ائتلافونو لیرې وساتي. نوی ډهلی پر دې هڅه کې و چې له پاکستان سره پر گډه پوله د شخړې له کبله د پاکستان د پوځ جگړه‌ییز امکانات کم کړي. مخکني تاریخ ته په کتو د افغانستان هر ملگري د شلمې پېړۍ په دوهمه نیمایي کې د افغانستان پر واکمنانو پاملرنه متمرکزه کړې وه. افغان مشرانو به تل خپل ځان او خاوره له گواښ سره مخ گڼل.

کله چې افغانان له ډیورنډ کرښې تېر شول، کال وروسته په ۱۹۶۱ز کال پاکستان پوله وتړله، له دې سره د دواړو هېوادونو ترمنځ ډیپلوماتیکې اړیکې هم ترینگلې شوې. د سوداگریزې لارې له بندېدو سره د افغانستان اقتصاد ته لویه ضربه ورسېده. د شاهي کورنۍ په د ننه کې د زړه بدوالي له کبله د هغه مهال لومړي وزیر سردار محمد داوود خان په ۱۹۶۳ز کال له خپلې دندې استعفا وکړه. دې مهال ته د ولسواکۍ لسیزه هم ویل کېږي، ځکه چې شاه پر همدې مهال اساسي قانون وړاندې کړی و.

د هغه مهال جنجالي پارلمان درې ځله موجوده حکومت منحل اعلان کړی و چې وروسته بیا په ۱۹۷۳ز کال پر ارگ کودتا شوه. داوود خان پر اعلیحضرت محمد ظاهر شاه تور لگولی و چې د پښتونستان مسئلې ته پاملرنه نه کوي، غواړي له اسلام‌اباد او واشنگټن سره خپلې اړیکې جوړې کړي. داوود خان پر شاه دا نیوکه هم کوله چې نشي کولای په پښتونستان کې له مېشتو پښتنو او بلوچستان کې له بلوڅو سره همکاري وکړي. په شمال لوېدیځ سرحدي ولایت او بلوچستان کې قدرت د نېشنل عوامي گوند په لاس کې و. د دې گوند مشري د کیڼ اړخو پښتنو او بلوڅو په غاړه وه، د پاکستان لومړي وزیر ذولفقار علي بوټو به ویل، دوی یې تر ټولو سرسخت سیاسي مخالفین وو. وروسته بوټو یو مخور بلوڅ قومي مشر، نواب اکبرخان بگټی د بلوچستان د والي په توگه وگماره.

د منتخبې ولایتي رهبرۍ له دندې لیرې کولو ناامني خپره کړه. اسلام‌اباد ویل، پښتانه او بلوڅ قومپال او ملت پال غورځنگونه د بېلتون فعال گواښونه وو. پاکستاني مشران هغه مهال ولړزېدل چې په ۱۹۷۱ز کال بنگلدېش د پاکستان له بدنې بېل شو. له ۱۹۷۲ز څخه تر ۱۹۷۷ز کلونو په منځ کې بوټو دوه مخې لوبه روانه کړې وه، له یوې خوا یې ملت پال پښتانه ځپل، له بلې خوا یې په پښتنې سیمو کې پرمختیایي پروژې پلې کولې. په فاټا کې د خلکو د ملاتړ خپلولو په پلمه اسلام‌اباد په دې سیمه کې وړې اقتصادي او پرمختیایي پروژې پلې کړې. په ۱۹۷۰ز لسیزه کې دې سیمو ته سړکونه، روغتونونه او کم شمېر فابریکې جوړې شوې. حکومت په فدرالي نظام کې پښتنو لوستو ځوانانو ته دندې هم ورکړې.

اسلام‌اباد دا سیمه همداسې تجرید شوې پرېښوده چې گڼې په دې سیمه کې د سیاسي اصلاحاتو امکانات کم وو. د بوټو اداري د استعمار د وخت د قبایلي سیمو قانوني رژیم په اساسي قانون کې را ووست. اسلام‌اباد د داوود خان پر ضد د اسلامپالو افغانانو ملاتړ ته لاس واچاوه. هغه مهال چې په پاکستان کې اسلام پالو د بنگلدېش له جوړېدو سره مخالفت وښود، اسلام‌اباد یې پر وړاندې خپله خواخوږي ډېره کړه. بل لور ته اسلام پالو له غرب او شوروي اتحاد سره مخالفت لاره، له همدې کبله د علاقې وړ وو. اسلام‌اباد پوهېده چې د اسلام پالو په ملاتړ سره هم هغوی د افغانستان پر ضد درولی شي او هم په پاکستان کې د ننه ملت پال پښتانه کرارولای شي. د افغانستان اسلام پال د نړۍ له مسلمانانو سره د تړاو یوه وسیله هم وه چې له مخې یې پاکستان کولای شوی اسلامي ابډیال وپالي. **دوام لري...**

# مرکب اغېز

▶ اکسوس کتابپلورنځی

ښه ده چې د مرکب اغېز په اړه د کتاب له متنه درته د دریو ملگرو کیسه وکړم: (دری داسې ملگري فرض کړئ چې له ماشومتوبه سره رالوی شوي دي. په یوه کوڅه کې اوسېږي، یو ډول خویونه لري او د هره یوه کلنی عاید نږدې ۱۵ زره ډالره دی. دریو واړو ودونه کړي، وزن او روغتیا یې طبیعي دي او تر واده وروسته چاغېدو ته یوڅه اندېښمن دي.

لومړی ملگری لېري نومېږي، دی خپل ورځني کارونه کوي، ژوند یې ښه دی یا خپل ژوند ښه ورته ښکارېږي، خو ځینې وخت زړه خوري چې هېڅ شی نه بدلېږي او هېڅ بدلون نه راځي.

دویم ملگری سکاټ نومېږي، ده څه واړه او ظاهراً بې ارزښته مثبت بدلونونه پیل کړي دي، دی هر شپه لس مخه مطالعه کوي، هره ورځ چې کار ته ځي، پر لاره نیم ساعت یو غړېز فایل اوري، زده کړه ترې کوي او الهام ترې اخلي. سکاټ په خپل ژوند کې بدلون غواړي او د بدلون هڅه کوي؛ خو ډېر شور یې نه دی جوړ کړی او شور نه کوي. په وروستیو کې یې د بریا په مجله کې یو مقاله لوستې ده، له هغه یې یوه مفکوره اخیستې او اوس یې په خپل ژوند کې عملي کوي. دی غواړي چې هره ورځ د خپلو خوړو له پلان څخه ۱۲۵ کالورۍ کمې کړي. سره له دې چې دا دومره لویه موضوع نه ده، دا کمی په خوړو کې د عادي بدلون له امله رامنځ ته کېدای شي. دا واړه کارونه هر وخت کېدای شي، د دې ترڅنگ یې د ورځې ۲۰۰ گامه مزل هم پیل کړی دی، دا دومره لوی اقدامات نه دي چې گڼې لوی زړه ته به اړتیا ولري، دا کارونه هرڅوک هر وخت کولای شي، خو سکاټ دغو کارونو ته ژمن دی. دی پوهېږي چې دا کارونه دومره کوچني او ساده نه دي، خو که یې ونه کړي، په ډېرې اسانۍ ستونزې ورته پیدا کولای شي.

درېیم ملگری براډ نومېږي، ده یو څه بد کارونه کړي دي، څه وخت مخکې یې یو تلویزیون واخیست، د پخلي خپرونه په کې گوري او پخلی ترې زده کوي، د دې ترڅنگ یې نشه هم پیل کړې ده، دا شیان ورته دومره ډېر نه ښکاري، یوازې یې د دې لپاره کوي چې خوند ترې واخلي.

په پنځمه میاشت په دوی دریو واړو کې کوم بدلونه نه ښکاري، سکاټ هر شپه هماغسې مطالعه کوي او هر ورځ چې کار ته ځي، غړېز فایل اوري. براډ له ژونده خوند اخلي او لږ کار کوي. لیرې هم پر همغو ورځنیو چارو اخته دی. دوی هر یو په خپله خوښ ژوند تېروي او د خپل ژوند یوه الگو لري؛ خو پنځه میاشتې دومره وخت نه دی چې د دوی په حالت کې د کومه وده یا ځوړ وښیي. د دوی دریو واړو په وزنونو کې دومره توپیر نه دی راغلی، په لسمه میاشت هم لوی بدلون نه ښکاري، خو اتلسمې میاشتې ته چې رسېږي، په دریو واړو کې واړه بدلونونه وینو. دا بدلونونه په ۲۵مه میاشت کې نور هم لوېږي، په ۲۷مه میاشت کې د دوی ترمنځ لوی توپیرونه ښکاري او ۳۱مه میاشت کې دا توپیرونه دومره لوی ښکاري چې هره څوک ورته گوته په غاښ پاتې کېږي. دا وخت به براډ ډېر چاغ شوی وي، سکاټ به ښایسته او مناسب ښکاري، هغه د ورځې ۱۲۵ کلورۍ کمې کړې دي او په دې توگه یې ۱۵ کیلوگرامه وزن کم کړی دی».




د مرکب اغېز خارق العاده قوت همدا او همدومره ساده دی. څوک چې مرکب اغېز د ځان په گټه کاروي، له هغو خلکو سره ډېر توپیر لري چې همدا اغېز د ځان پر وړاندې کاروي. په دغو دواړو ډلو خلکو کې لوی او د پام وړ بدلونونه وي، مرکب اغېز ډېر جالب دی، جادو ته ورته دی، تر ۳۱ میاشتو وروسته چې کوم سړي د مرکب اغېز مثبت ماهیت کارولی وي، داسې به وي لکه یو کس چې بریالیتوب ته نږدې شوی وي، لوی بریالیتوب اصلاً د هغو وړو او ځیرکو ټاکنو پایله ده چې انسان یې پرله پسې کوي.

یاد کتاب تازه اکسوس چاپ کړی، د کتاب لیکوال ډارن هارډي دی، پښتو ژباړه یې میراحمد یاد او بیاکتنه یې احمدشا ویاړ کړې، چې ټولټال د شپږو څپرکو په درلودو سره په ۲۲۱ مخونو کې راټول شوی دی.

مینه وال کولای شي دغه کتاب له اکسوس او د ښار له نورو لویو کتابپلورنځیو څخه په مناسب قیمت ترلاسه کړي.



## روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه

Aksos

| شمېره | د کتاب نوم | لیکوال / ژباړن | بیه |
|---|---|---|---|
| ۱ | جواهر لعل نهرو | جواهر لعل نهرو | ۸۰؋ |
| ۲ | ډگر جنرال قهرمان عبدالوهاب وردگ پیلوت | ډگر جنرال قهرمان عبدالوهاب وردگ پیلوت | ۱۰۰؋ |
| ۳ | محراب الدین واکمن | محراب الدین واکمن | ۵۰؋ |
| ٤ | پوهندوی سید مسعود | پوهندوی سید مسعود | ۱۲۰؋ |
| ٥ | دکتر محمد قاسم دانش بختیاری | دکتر محمد قاسم دانش بختیاری | ۲۲۰؋ |
| ٦ | استاد ربانی زلمی | استاد ربانی زلمی | ۱۲۰؋ |
| ۷ | آموزشگاه دریچه موفقیت | آموزشگاه دریچه موفقیت | ۲۲۰؋ |
| ۸ | فضل الله رښتین | فضل الله رښتین | ۸۰؋ |
| ۹ | محمود مسلم | محمود مسلم | ۸۰؋ |
| ۱۰ | عبدالمقیم علیزی | عبدالمقیم علیزی | ۱۵۰؋ |
| ۱۱ | دکتر مصطفی زهرانی | دکتر مصطفی زهرانی | ۱۵۰؋ |
| ۱۲ | الحاج مبارز څاپي | الحاج مبارز څاپي | ۱۰۰؋ |
| ۱۳ | پوهیالي ضیا الرحمن راسخ | پوهیالي ضیا الرحمن راسخ | ۱۸۰؋ |
| ۱٤ | پوهاند محمد اسحق رازقی سوله دوست | پوهاند محمد اسحق رازقی سوله دوست | ۲۰۰؋ |
| ۱٥ | پوهنوال شېر زمان حمیدي | پوهنوال شېر زمان حمیدي | ۳۲۰؋ |
| ۱٦ | پوهنمل سید اکرم هاشمي | پوهنمل سید اکرم هاشمي | ۲۰۰؋ |
| ۱۷ | عبدالقیوم زاهد مشواڼی | عبدالقیوم زاهد مشواڼی | ۵۲۰؋ |
| ۱۸ | مسلک فهم محمد آغا ډاډمن | مسلک فهم محمد آغا ډاډمن | ۲۰۰؋ |
| ۱۹ | پوهیالی دین محمد مشفق | پوهیالی دین محمد مشفق | ۲۳۰؋ |
| ۲۰ | مهندس رویا مطلق زاده | مهندس رویا مطلق زاده | ۳٦۰؋ |
| ۲۱ | هشت گفتار در باره فلسفه موسیقی1 | داریوش صفوت | ۳۸۰؋ |
| ۲۲ | هشت گفتار در باره فلسفه موسیقی۲ | | ۲۰۰؋ |
| ۲۳ | هشت گفتار در باره فلسفه موسیقی۳ | | ۳۰۰؋ |
| ۲٤ | هشت گفتار در باره فلسفه موسیقی٤ | | ۲۵۰؋ |
| ۲٥ | داکتر منصور مجاب | داکتر منصور مجاب | ۲۰۰؋ |
| ۲٦ | عبدالرحیم مسلم دوست | عبدالرحیم مسلم دوست | ۳۵۰؋ |
| ۲۷ | مولوی حمد الله خونزاده | مولوی حمد الله خونزاده | ۱۳۰؋ |
| ۲۸ | ابو جعفر احمد بن محمد بن سلامه طحاوی | ابو جعفر احمد بن محمد بن سلامه طحاوی | ۱۰۰؋ |
| ۲۹ | محمد العریفی | محمدالعریفی | ۱۵۰؋ |
| ۳۰ | روبېن شرما/ میراحمد یاد | روبېن شرما/ میراحمد یاد | ۱۳۰؋ |

**په خپل کور او کار ځای کې د کتابونو د تر لاسه کولو لپاره له لاندې شمېرو سره اړیکه ونیسئ**

پته: دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ     اړیکه: 0798-98-9696 - 0202504652

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۹,۱۰ |
| € | ۷۸,۸۰ |
| Rp. | ۴۹۷ |
| ₹ | ۱۱۵۰ |
| ¥ | ۱۱,۳۰ |
| £ | ۹۵,۵۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زیږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

# سناتوران: حکومت د سولې په وروستیو پرمختگونو کې څنډې ته ساتل شوی دی

د مشرانو جرگې د سه شنبې ورځې په عمومي ناسته کې سناتورانو د سولې مذاکراتو، له افغانستان څخه د بهرنیو ځواکونو د وتلو او ټاکنو په تړاو خبرې کړې دي.
د مشرانو جرگې غړي وایي، په داسې حال کې چې د سولې په چارو کې د دولت وزیر څو ورځې مخکې خبر ورکړ، چې تر راتلونکو دوو اونیو به د طالبانو او حکومت مخامخ مذاکرات پیل شي، دغه څرگندونې د طالبانو له لوري په مستقیم ډول رد شوې، خو زلمي خلیلزاد هم په غیر مستقیمه توگه ورته ځواب ووایه.
سناتوران وایي، چې حکومت د سولې د وروستیو پرمختگونو په اړه کاملاً په بې خبرۍ کې قرار لري.
د مشرانو جرگې غړی زلمی زابلی وایي: «موږ دا وایو چې که حکومت د طالبانو سره خبرې کوي، دوی دې یو ځل روان بهیر ښه موثق کړي او بیا دې په رسنیو کې وغږېږي».
په ورته مهال سناتوران له افغانستانه د بهرنیو ځواکونو پر مسوولانه وتلو ټینگار کوي.
د مشرانو جرگې غړي وایي، که امریکا غواړي خپل سرتېري له افغانستانه وباسي،



دغه چاره باید د یوه میکانېزم په اساس وي.
د دې جرگې غړې انارکلي هنریار وایي: «له افغانستانه د بهرنیو ځواکونو وتل باید بامسوولیته وي، نه داسې چې د دوی په وتلو سره یو ځل بیا هېواد د بحران خواته ولاړ شي».
سناتوران همدا راز د ولسمشریزو ټاکنو پر ځینو کاندیدانو هم د نیوکې ترڅنگ وایي، چې یوشمېر نوماندان په خپلو دروغجنو شعارونو سره غواړي چې د ملت په سترگو کې خاورې وشیندي.
دوی ټینگار کوي، چې ځینې کاندیدان داسې شعارونه ورکوي چې د دوی له صلاحیت څخه هم لوړ وي.
سناتوران وایي، د ولسمشریزو انتخاباتو ته نوماندان باید له قوانینو څخه سرغړونه ونه کړي او د ټاکنیزو کمېسیونونو طرزالعمل مطابق مخته ولاړ شي.
مشرانو جرگه حکومت د سولې په برخه کې له طالبانو سره په نه همغږۍ په داسې حال کې تورنوي، چې ټاکل شوې په راتلونکو څو اونیو کې د سولې په موخه په یوه اروپایي هېواد کې د سیاسي گوندونو، طالبانو او افغان حکومت د استازو په گډون ناسته ترسره شي.

# فیفا: د سولې روان بهیر او ځینو سیاسي او امنیتي پېښو پر ټاکنیز کمپاین سیوری غوړولی دی




پر ټاکنو څارونکي بنسټونه وایي چې د سولې روان بهیر، سیاسي مسایلو او ناوړه امنیتي وضعیت پر انتخاباتي کمپاین ناوړه اغېز کړی دی.
د افغانستان د ازادو او عادلانه انتخاباتو د بنسټ اجرایوي مشر یوسف رشید ازادي راډیو ته ویلي چې د نورو بېلابېلو مسایلو ترڅنگ له امریکایانو سره د طالبانو د سولې مذاکراتو پر انتخاباتو سیوری غوړولی دی.
هغه ویلي: «امنیت یوه جدي ستونزه ده، همداشان سیاسي مسایل او د سولې منډې ترړې، تر اوسه هم ځینې نوماندان په دې باور دي چې انتخابات به وشي که نه، دوی زړه نه ښه کوي چې په کمپاینونو کې پیسې مصرف کړي او میدان ته راودانگي».
هغه دغه راز ویلي چې کمپاینونه پیکه روان دي او له کمپاین پرته انتخابات ماهیت او منطق له لاسه ورکوي چې دا کار تقلب او درغلۍ ته لاره هواروي.
د جمهوري ریاست د پخوانیو کمپاینونو برعکس د روان کال د انتخاباتو لپاره په کابل ښار او ولایتونو کې د کاندیدانو کم عکسونه لیدل کېږي او د کمپاین له پیله چې څلور ورځې پرې اوړي، یوازې درېیو کاندیدانو محمد اشرف غني، عبدالله عبدالله او عنایت الله حفیظ انتخاباتي کمپاینونه کړي دي.
خو د گلبدین حکمتیار په مشرۍ د سولې او اسلامي عدالت انتخاباتي ټیم، د ډاکتر سید نورالله جلیلي په مشرۍ د مهربان او مسوول دولت انتخاباتي ټیم او د رحمت الله نبیل انتخاباتي ټیم وایي چې په ټولو ولایتونو کې یې د کمپاین لپاره دفترونه نیولي او ډېر ژر به ټولیز کمپاین پیل کړي.
بلخوا په قطر کې د طالبانو د سیاسي دفتر ویاند سهیل شاهین له ازادي راډیو سره په خبرو کې ویلي چې د افغانستان د جمهوري ریاست انتخابات د سولې پروسه زیانمنولی شي.
هغه ویلي: «زموږ په نظر له اشغال لاندې انتخابات درست انتخابات نه دي، دا د ولس استازیتوب نه شي کولی او نه هم د افغانستان د مسئلې حل دی، هسې د اشغال له دوام سره مرسته کوي او د سولې پروسه زیانمنوي».
په ورته وخت کې د چارو یو شمېر کارپوهان وایي، انتخابات او سوله دوه ځانگړې پروسې دي چې باید هرې یوې ته په خپل وخت کار وشي.
د دغو کارپوهانو له ډلې خالد سادات وایي، دا چې طالبان وایي چې انتخابات سوله زیانمنولی شي، دا یوه بهانه ده.
دی زیاتوي: «انتخابات د سولې له پروسې سره په ټکر کې نه شي راتلی، انتخابات د حکومتونو د تبدیلۍ لپاره یوه نورماله پروسه ده او په ولسواکۍ کې د واک د لېږد یو منل شوی اصل دی، نه سوله او نه هم انتخابات باید یو بل زیانمن کړي، دلته د طالبانو ځینې غوښتنې دي چې انتخابات دې وځنډېږي او موقت حکومت دې رامنځته شي، دا د طالبانو یوه بهانه ده».

# شکایتونو کمېسیون: په کمپایني غونډو کې له دولتي امکاناتو څخه گټه اخیستل کېږي

د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون ویلي، د ولسمشرۍ د انتخاباتو په کمپایني غونډو کې انتخاباتي سرغړونې شوې دي.
په انتخاباتي کمپاینونو کې له دولتي امکاناتو گټه اخیستنه هغه څه وو چې د ولسمشریزو انتخاباتو د کمپاین له رسمي پیل وړاندې یې په اړه اندېښنې موجود وې، خو د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون ویلي، د ولسمشرۍ د انتخاباتو په ځینو کمپایني غونډو کې له اصولو او کړنلارو سرغړونې شوې دي.
د دغه کمېسیون مرستیال قطب الدین رویدار ویلي، په ځینو کمپایني غونډو کې د لوړپوړو دولتي چارواکو گډون او له دولتي امکاناتو گټه اخیستنه هغه څه دي چې دوی یې په اړه څېړنه کوي.
هغه دغه راز ویلي: «موږ او تاسې ولیدل چې په یو شمېر غونډو کې ځینې لوړپوړي حکومتي چارواکي ولیدل شول او دا له قانون او لوایحو ښکاره سرغړونه ده. له موږ سره نوماندانو ژمنې کړې چې خپل ټول تبلیغات به د قانون او کړنلارو په رڼا کې کوي، موږ هم اصول او کړنلارې له دوی سره شریکې کړې دي، خو له بده مرغه موږ سرغړونې ولیدلې او دا به موږ څېړو.»
نوموړي ویلي، د دوی موندنې ښیي چې یو شمېر دولتي لوړپوړي او ټیټ رتبه چارواکي هم د ټولنیزو رسنیو په ځانگړې ډول فېسبوک او ټوېټر له لارې د ځانگړو نوماندانو په گټه کمپاین کوي.
هغه ویلي، د انتخاباتي مبارزو له رسمي پیل وړاندې ټولو نوماندانو ته د کمپایني اصولو پاڼې استول شوې او که هر نوماند ترې سرغړونه وکړي، قانوني چلند به ورسره وشي.




دا په داسې حال کې ده چې د انتخاباتو د قانون د ۹۸یمې مادې د ۱۳م او ۳۱م بند پر بنسټ دولتي چارواکي نشي کولی چې کوم ځانگړي نوماند ته کمپاین وکړي او دغه شان نوماندان هم له دولتي امکاناتو گټه نه شي اخیستلی.
افغان ولسمشر محمد اشرف غني هم د کمپاینونو له رسمي پیل وړاندې سپارښتنه کړې وه چې هېڅ نظامي او ملکي دولتي مامورین نه شي کولای چې په کمپایني غونډو کې برخه واخلي.
که څه هم د انتخاباتي شکایتونو د کمېسیون مرستیال قطب الدین رویدار د کوم ځانگړي انتخاباتي ټیم نوم نه دی اخیستی، خو د نوماند عبدالله عبدالله په لومړۍ انتخاباتي غونډه کې د افغانستان د بهرنیو چارو د وزیر صلاح الدین رباني گډون او د محمد اشرف غني له لوري کمپایني غونډې ته په دولتي هلیکوپټر کې تگ راتگ هغه څه دي چې د خلکو له خوا د سرغړونو په توگه یادېږي.
خو د دولت جوړوونکي انتخاباتي ټیم ویاند رضوان مراد ازادي راډیو ته ویلي چې محمد اشرف غني د افغان ولسمشر په توگه حق لري چې د ولسمشرۍ د څوکۍ له ټولو حقونو گټه واخلي.

# پامپیو: امریکا د ۲۰۲۰ ز کال له ټاکنو وړاندې د سرتېرو ایستل پیلوي

د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پامپیو ویلي، ولسمشر ټرمپ غواړي چې د امریکا د راتلونکي کال تر ولسمشرۍ ټاکنو مخکې له افغانستانه د خپلو سرتېرو د ایستلو لړۍ پیل کړي.
د امریکایي رسنیو د راپورونو له مخې، پامپیو دا څرگندونې په واشنگټن کې کړې دي.
دا په داسې حال کې ده چې ټاکل شوې د ۲۰۲۰ په نومبر میاشت کې په امریکا د ولسمشرۍ ټاکنې ترسره شي.
پامپیو ویلي چې له ولسمشر ټرمپ څخه یې داسې یوه سپارښتنه ترلاسه کړې چې تر راتلونکو ولسمشرۍ ټاکنو له افغانستانه سرتېري وباسي.
دا په داسې حال کې ده چې ولسمشر ټرمپ د تېرو ټاکنو په کمپاینونو کې ویلي وو چې له افغانستانه به خپل ځواکونه وباسي او په دغه هېواد کې به خپلې تر ټولو اوږدې جگړې ته د پای ټکی کېږدي.



خو واک ته له رسېدو وروسته یې افغانستان ته نور ځواکونه واستول او د خپلو قوماندانانو واکونه یې هم زیات کړل.
دا په داسې حال کې ده چې امریکا له څو میاشتو راهیسې له طالبانو سره د سولې خبرې پیل کړې دي، خو لا کومې پایلې ته نه دي رسېدلې.
خو مایک پامپیو ویلي چې له طالبانو سره په خبرو کې رښتینی پرمختگ شوی او هغه پر دغه پرمختگ خوښ دی.
په ورته وخت کې د افغانستان د سولې په برخه کې د امریکا ځانگړی سلاکار زلمی خلیلزاد په کابل کې دی او ټاکل شوې چې له کابله مخامخ قطر ته ولاړ شي چې له طالبانو سره د مذاکراتو اتم پړاو پیل کړي.
د یادونې ده چې د افغانستان او امریکا حکومتونو له دې مخکې ویلي وو چې د ځواکونو ایستل به مشروط وي.

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** اېمل خان، نذیر احمد سهار او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري
**گرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶ ۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

# Maseer

New Vision, New Journey

Daily






چهارشنبه د ۱۳۹۸ د زمري نهمه | د ۲۰۱۹ د جولای ۳۱مه | ٤١٤مه گڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳٦ | ٤۰ | ٤۳ | ٤۲ | ۳۹ | ٤۳ |
| ۱۹ | ۲۳ | ۲٦ | ۳۰ | ۲۸ | ۲۷ |

شرعي وختونه: سهار ۰۳:۲۹ | لمر ختل ۰۵:۰۲ | ماسپښین ۱۲:۰۰ | مازیگر ۰۳:٤۹ | ماښام ۰٦:۵۸ | ماخوستن ۰۸:۳۵

## نړۍ




۳

## د برازیل په یوه زندان کې د نښتو له کبله ۵۷ تنه وژل شوي دي



د برازیل په یوه زندان کې د بندیانو د دوو ډلو ترمنځ په نښته کې چې څو ساعته یې دوام وکړ، لږ تر لږه ۵۷ تنه وژل شوي دي.

د دغه هېواد په شمالي ولایت پارا کې د التمیرا په نوم په یوه زندان کې د بندیانو یوې ډلې د بلې ډلې سیمه اشغال کړې وه چې له امله یې دواړه رقیبې ډلې سره ونښتې او د دواړو خواوو بندیان زخمیان او ووژل شول.

د دغه هېواد چارواکو ویلي چې په دغو نښتو کې له ۱٦ بندیانو سرونه پرې شوي وو.

د چارواکو په خبره، یو شمېر کسان په زندان کې د اور د لگېدو له امله په دود کې ساه بندي شوي او مړه شوي دي.

دا لومړی ځل نه دی چې په دغه هېواد کې داسې خونړۍ پېښه رامنځته کېږي، بلکې تر دې وړاندې هم د برازیل په زندانونو کې د بندیانو د رقیبو ډلو ترمنځ تل نښتې کېږي، چې سلگونو کسانو ته پکې مرگ ژوبله اوړي.

د یادونې ده چې په تېره میلادي میاشت کې هم د برازیل په امازوناس ولایت کې په یوه زندان کې په ورته شخړه کې ۵۵ زندانیان ووژل شول او په لسگونو نور ټپیان شول.

په ورته وخت کې ملگرو ملتونو هم په دغه هېواد کې د زندانیانو په مرگ ژوبلې خواشیني ښودلې او د برازیل له حکومت څخه یې غوښتي چې ژر تر ژره دې د زندانیانو روانو ستونزو ته د پای ټکی کېږدي.

## د یمن پر سعده ښار په برید کې لسگونو کسانو ته مرگ ژوبلې اوښتې ده

د یمن په شمال کې پر سعده ښار په مرگوني برید کې د دوو ماشومانو په گډون، لږ تر لږه لس کسان وژل شوي او ۲۷ نور ټپیان شوي دي.

د حوثیانو تر کنټرول لاندې یوې ټلوېزیوني شبکې او یوه سیمه ییز روغتون ویلي چې دغه برید د سعودي په مشرۍ ائتلاف کړی دی.

بلخوا د سعودي په مشرۍ د ائتلافي ځواکونو ویاند ډگروال ترکي المالکي رویټرز اژانس ته په یوه بیان کې ویلي چې په الثابت بازار باندې برید حوثیانو کړی دی.

هغه دغه راز ویلي: «دا یو تروریستي عمل دی چې حوثي یاغیانو له الثابت قبیلې سره د دښمنۍ په خاطر کړی دی».



دا په داسې حال کې ده چې ریاض له ۲۰۱۵ ز کال راهیسې په یمن کې د حوثیانو پر ضد د ائتلاف په چوکاټ کې بریدونه مخته وړي چې وخت ناوخته پکې ملکي وگړو ته هم درنه مرگ ژوبله اوړي.

د سعودي عربستان په مشرۍ دغه ائتلاف تر دې مخکې هم د ملکیانو په وژنه تورن شوی دی، خو دغه ائتلاف بیا وایي چې ملکیانو ته د حوثي یاغیانو په بریدونو کې مرگ ژوبله اوړي او پړه یې پر دوی اچول کېږي.

د یادونې ده چې د یمن روان کړکېچ د دغه هېواد ډېری اوسېدونکي د سختي قحطۍ له گواښ سره مخ کړي، چې په سیمه ییزه او نړیوالو کچه یې تونډ غبرگونونه هم راپارولي دي.

## وزارت خارجه: مافیا زمینۀ اخذ پول برای گرفتن ویزۀ پاکستان را مساعد کرده است



معین سیاسی وزارت خارجۀ افغانستان می گوید که حدود سی تن از افغان ها، از آدرس نامعلوم توظیف شده و با ایجاد محدودیت ها، زمینه را برای گرفتن پول در بدل به دست آوردن ویزۀ پاکستان در کابل مساعد کرده اند.

شماری از اعضای مشرانو جرگه، در نشست دیروز این جرگه گفتند که افغان ها با گرفتن ویزه پاکستان با مشکل مواجه اند و کسانی که پول بدهند، در کم ترین فرصت ویزه به دست می آورند؛ اما کسانی که پول ندهند، به روزها موفق به گرفتن آن نمی شوند.

ادریس زمان معین سیاسی وزارت امور خارجه که دیروز به مشرانوجرگه فرا خوانده شده بود، گفت که یک بخش مهم هجوم متقاضیان ویزه پاکستان، در بیرون از سفارت پاکستان در کابل و قونسلگری آن در ننگرهار، به خود افغان ها بر می گردد.

به گفته او حدود سی تن از افغان ها از آدرس نامعلوم توظیف شده و با ایجاد محدودیت ها زمینه را به گرفتن پول در بدل به دست آوردن ویزه پاکستان مساعد کرده اند.

اما موصوف افزود که دو روز پیش، در مورد با مسئولین امنیتی و سفارت پاکستان در کابل گفتگو شده و تا یک هفته، این مشکل مدیریت خواهد شد.

به گفته او مسئولین امنیتی تعهد کرده اند که در رفع این مشکل، اقدام می کنند و جلو مافیای شکل گرفته را می گیرند.

زمان افزود: «پاکستان هم در این قسمت دو مشکل دارد که یکی آن مشکل سیاسی است، از موضوع صدور ویزه بهره برداری سیاسی می کند؛ یعنی همیشه ما زیر فشار باشیم و پاکستان اهمیت شان را به ما نشان بدهد و دوم موضوعات مالی است».

وی گفت که با مسئولین سفارت پاکستان در کابل، صحبت هایی صورت گرفته و این سفارت در نظر دارد تا بخش قونسلی را با غرفه های بیشتر در کابل و ننگرهار ایجاد کند.


CoAR 1989

هماهنگی کمک ها برای افغانها

Coordination of Afghani Relief

اعلان داوطلبی

موسسه هماهنگی کمک ها برای افغان ها (CoAR) که عضویت فعال اتحادیه ACCEL دارد، به کمک مالی ECW تصمیم دارد سروی ابتدایی (base-line survey) پروژه را در ولایات ننگرهار، هلمند، کندز، کندهار، بادغیس و پکتیکا اجرا نماید. آنعده افراد وشرکت های مشورتی که دارایی تجربه کاری مرتبط باشند، لطف نموده شرطنامه را از سایت www.acbar.org.af به دست آورد و افرهای قیمت دار سربسته خویش را الی تاریخ متذکره (2019/14/08) الی به آدرس ذیل بسپارد.

خانه نمبر ١٦٧٦، مقابل محب زاده مارکیت، پل سرخ، کارته چهار، ناحیه سوم شهر کابل.

procurement@coar.org.af